نورمحمد غفوری ۲۰۱۲/۰۴/۰۷

# ټولنیز خوځښت (اجتماعی جنبش)

**سریزه:**

زموږ په ګران هیواد افغانستان کې د اوسنیو جګړو، بې نظمیو، روانو فسادو، چوراو چپاول د مخنیوی او د هیواد د وضعیت د بدلون او ښیګڼې په خاطر د وطنپالوشخصیتونو، جوړښتونو او سازمانونو ترمنځ د سیاسی- ټولنیزو فعالیتونو د شکلونو په اړه خبرې کیږی. ځینی سیاسی او ټولنیز فعالین د غښتلو سراسری ګوندونو د جوړولو او له هغې لارې د منظمو، مخکې سنجول شوو او پلان شوو چارو پرمخ بوولو ته ترجیح ورکوی. ځینې بیا د وړو وړو سازمانونو او موجودو ګوندونو ترمنځ په فوری توګه د جبهې د جوړیدو لاره معقوله بولی، خو نور بیا د وضعیت د بیړنی او فوری تغیر او بدلون په خاطر د پراخه ټولنیز- سیاسی جنبش د په لار اچولو پلوی کوی. ددې له پاره چې د سیاسی او ټولنیزو چارو د ډګر فعالینو او ځوانو مینه والو ته د بحث او تفکر امکان برابر شی، په دې لیکنه کې د ټولنیز خوځښت په اړه لومړنۍ معلومات وړاندې کیږی.

**خوځښت (جنبش) څه شی دی؟**

د ټولنیزو علومو له نظره ټولنیز خوځښت (یا اجتماعی جنبش) هغه ډله ایز او جمعی حرکت دی چې په هغو کې مختلف ګوندونه، سازمانونه او ځانګړی افراد برخه لری. ددوی ګډ هدف د خاصو ټولنیزو بدلونو راوړل، چټکتیا ورکول او یا د همداسې بدلونونو مخنیوی او یا بیرته په شا ګرزول وی. په جنبش کې د ګډون کوونکو شخصیتونو او جوړښتونو د ګډون او تحرک عوامل یو له بله بیل وی او هر یو خپله ځانګړی ستراتیژی او مشخص پلانونه او راتلونکی هدفونه پر مخ وړی.

**د ټولنیز خوځښت بیلابیل پړاوونه:**

ټولنیز خوځښتونه (اجتماعی جنبشونه) کیدای شی چې د هغو د سازماندهی د درجې، د هغو د ځواک، د هغو لخوا د ټاکل شوی ستراتیژیو او نورو معیارونو (ځانګړنو) پر بنسټ په مختلفو ډولونو وویشل شی. ټولنیز خوځښتونه د ټیپیک نظری لحاظه د مختلفو مرحلو څخه تیریږی.

1. د ټولنیزو خوځښتونو د رامنځته کېدو لومړۍ مرحله د پرابلمونو او تر مخ پرتو ستونزو پیژندل، تحلیل او د هغو په اړه بحث او د نظر ښکاروونه ده. د معین ټولنیز، اقتصادی او سیاسی حالت نه منل او د هغو په وړاندې د خوځښت او خلکو را پورته کیدل د ټولنیز جنبش لومړی پړاو جوړوی. د ټاکلی حالت د بدلون له پاره ټول هغه شخصیتونه او سازمانونه متې رانغاړی چې په یوه او یابل علت د روان حالت څخه په تنګ راغلی وی. په دې مرحله کې د خوځښت مقیاس او پراخوالی سم نه پیژندل کیږی او د پرمخ وړلو او دوام له پاره یې د لارښوونې او سازمان ورکولو ارګانونه او جوړښتونه د لزوم په کچه نه وی رامنځته شوی.
2. د ټولنیز خوځښت په بهیر کې د هغو دوهمه مرحله پیلیږی. په دوهمه مرحله کې د داسې ابتکاری اقدامونو تر لاس لاندې نیول، د ګروپونو او اتحادیو جوړول دی چې د خوځښت د برخه والو ترمنځ د همکاری او یوځایی کار کولو زمینه برابره کړای شی. په دې وخت او دې پړاو کې دوو مهمو چارو ته پام اړول اړین دی:
   a. د جنبش د اهدافو د تبلیغ او د هغو د ټولنیز مقام د لوړولو له پاره د مټنګونو، مظاهرو، غونډو او بحثونو په لاره اچول، د اعلانونو او لیکلیو موادو ویشل او داسې نور


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

b. دا موضوع خورا مهمه ده چې د جنبش رهبري د داسې کسانو په لاس کې وي چې ټولنیزه اوتوریته ولري او که ممکن وي د لویو سیاسي سازمانونو او ټولنیزو اتحادیو ملاتړ خپل کړای شي او د نورو ولسي کتلو پام د جنبش خواته راوګرزولای شي. رهبران باید داسې کسان واوسي چې د جنبش د آخري بریا سره مینه ولري او جنبش تر پایه پورې ترې ونه شړیږي، د خپلو شخصي مادي او معنوي ګټو په وړاندې یې له هدفونو تیر نه شي. په دې وخت کې د ستونزو د حل لارې په ګوته او څرګندیږي. د موجود حالت او یا بهیر له پاره الترناتیفونه (بدیلونه) وړاندې کیږي. د خوځښت رهبري زیارباسي چې هغه د ټولنې تر منځ او په ورځنیو فعالیتونو کې ټینګ او لوړ ځای ونیسي.

3. د ټولنیز خوځښت بله مرحله د هغو د زوال او له منځه تللو پړاو دی. ټولنیز جنبش معمولا تر یوه معین وخت وروسته آرام آرام زوال مومي او له منځه ځي. د ټولنیز خوځښت د آرامتیا او له منځه تللو غوره سببونه په لاندې ډول شمیرلای شو:

الف- د ځینې نسبي بریالیتوبونه لاس ته راوړنه، چې د هغو په نتیجه کې د جنبش دغړو رضایت حاصلیږي او د جنبش د دوام سره مینه نه لري.

ب- مأیوسي او نا امیدي، چې د جنبش ګډون کوونکي ور سره مخامخ کیږي. دوی نور خپل هدف ته په رسیدو باور نه لري او خپلې هلې ځلې هسې د وخت ضایعه او خپل ځانونه خطر ته ورکول بولي. دا کیدای شي چې د مقابل لوري دځواک او ټینګتیا او یا د جنبش د رهبري د ضعف پایله وي.

ج: د بل یا نورو لا مهمو پرابلمونو را ټوکیدل، چې د جنبش د راپورته کیدو لومړني ستونځې تر سیوري لاندې ونیسي. کله چې نوي او لوي پرابلمونه را پیداشي او هغه لومړئ پرابلم تر سیوري لاندې ونیسي، نو د ولس پام د هغو خواته ګرزي او له لومړیو هدفونو سره یې علاقه کمیږي.

**پـــایـلـه:**

د ټولنیزو جنبشونو اساسي ځانګړنه داده چې په لومړیو قدمونو کې په آزاد شکل راڅرګندیږي، کومه خاصه سازماندهي نلري او ټینګ تشکیلاتي پرنسیپونه او مقررات هم نه غواړي. خو کله چې جنبش رامنځته شي، نو زر تر زره د جنبش غړي د تشکیلاتو او سازماني جوړښت په اړه اقدام کوي. انجمنونه، ګروپونه، اتحادیې او نور د اړتیا وړ سازماني حلقې را جوړیږي. دا هم ډیره پیښیږي چې جنبش د خلکو له مغزونو او زړونو پناه شي او نور یې جدي ونه نیسي، خو هغه سازمانونه او تشکیلاتي ستروکتورونه چې د هغو د موجودیت په وخت کې رامنځته شوي وي، خپل ژوند ته ډیره موده دوام ورکړي. کله چې جنبش دې حالت ته ورسیږي، نو دا د جنبش مړینه او د هغو د لومړیو هدفونو بې اهمیته کیدل دي. ځینې وخت بیا د جنبش د اساسي ارزښتونو او غوره لومړیو هدفونو د عملي کیدو له پاره همدا جوړ شوي نهادونه خپل کار ته دوام ورکوي. د زړو جوړښتونو تغیر او د نویو ټولنیزو ستروکتورونو ځای پرځای کول د ټولنیزو خوځښتونو مشخصه علامه ده. څرنګه چې په ټولنیز جنبش کې مختلفې طبقې، قشرونه او جوړښتونه د یو له بله څخه بیلو حتی متضادو انګیزو پر بنسټ برخه لري، نو د خوځښت په بهیرکې جوړ شوي جوړښتونه له افراطي چپو څخه نیولې بیا تر افراطي ښیو پورې رامنځته کیدای شي. دوی یو د بل په وړاندې مبارزه پیلوي. ډیر ځله رادیکالان په معتدلینوباندې د مقام غوښتنې، تسلیمۍ او خیانت تور لګوي او معتدلین بیا په رادیکالانو باندې د اتوپیسم، اراده ګرائۍ او د دیکتاتورۍ او ټولواکۍ د روحیې تورونه لګوي. د جنبش له لارې د لومړیو طرحو شوو اهدافو لږه برخه عملي کیدای شي، خو ډیر ځله د هغو ډیره برخه د پلې کیدو څخه پاته کیږي. په جنبش کې د ګذشتونو او تیرېدنو امکان زیات دی. د جنبش آوازه، خصوصا د هغو په پیل او د فعالیت د اوج په وخت کې د هغو تر ریښتیني ځواک ډیره لوړه وي، خو څرنګه چې د هدفونو د عملي کېدو له پاره اړین جوړښتونه او پوره چمتووالی نه لري، جنبش د ډیر وخت له پاره دوام نه شي موندلای او یا یې ساتل له ډیرو ستونځو ډک وي. جنبشونه د رنګارنګ علتونو پر بنسټ خپلو لومړیو لوړو طرحه شوو پلانونو او هدفونو ته نه شي رسیدای او ډیر ځله په یو او یا بل ډول په نیمه لاره کې پاته کیږي او یا د نیمو هدفونو پر تر سره کولو سره پای ته رسیږي. په نولسمه او شلمه زیږیدیزه پیړۍ کې دټولنیزو خوځښتونو غوره بیلګې د کوپراتیفونو خوځښت، د کارګرانو جنبش، د ځوانانو او ښځو جنبشونه او نور یادولای شو.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ